مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سرلوخ مرادزی ۲۰۲۱ / ۰۶ / ۱۴

د ولس پر سرونو لوبه!

هغوی یې نن د ولیبال توپ ګڼي.
زمونږ له وطن یی د ولیبال لوبغالی جوړ کړی. خپلو هېوادو کې یې لوبغاړي روزلي او زمونږ وطن ته یی استولي چې زمونږ د ولس پر سرونو د ولیبال لوبې ننداره وکړي.
له دوی څخه ځینو د میدان د یوې خوا د لوبغاړو په برې شرط تړلی او د لوبې په بله غاړه بیا نور هېوادونه په داو لګیا دي.
هغوی چې ستر او ځواکمن دي او د لوبغاړو په روزلو کې یې ډېر لګښت او زیات زیار ګاللی، د لوژ په پورته او اوچته برخه کې ناست دي او د لوژ په ښکته او نورو برخو کې بیا هغو ځای نیولی چې د خپلې وسې په اندازه یی د لوبې په سمبالولو کې ونډه اخېستې ده.
هغه نړیواله ټولنه چې ځان د نړۍ له هېوادو پورته ګڼي، هغه هم زمونږ د ولس پر سرونو د ولیبال په دې لوبه کې د ریفري رول لوبوي. کله د لوبغالي د یوې غاړې او کله د بلې غاړې په ګټه چنې وهي او غواړي په دې توګه لوبه اوږده کړي، ځو د نندارچیانو په خوښ ساتلو سره پخپله دنده کې دایمي پاتې شي او د دوی د شا باس وړ وګرځي.
له نندارچیانو څخه هر یو، که څه هم په بېلا بېلو لوژو کې ناست دي او د لوبغالي د یوې یا بلې غاړې د لوبغاړو په ګټه ناري وهي او چک چکې کوي، خو د لوبې په ننداره کې کله چې توپ شوټ خوري، ټول سره په ګډه خاندي او شوټ وهونکي ته په یوه اواز شاباس وایی.
په دې لوبه کې دوی ټولو ته په یوه شان،
زمونږولس د لوبو توپ،
او زمونږ وطن د لوبو میدان ښکاري.
او دوی ټول زمونږ د ولس پر سرونو،
له توپ لوبې څخه یو شان،
لذت اخلي!

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ